آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۴/۱۹

# یوه اوږده لار او یو اوږد انتظار

یوه اوږده لاره له ګلونو ډکه

له ګلو ډکه، له یادو مالامال

او له زخمو مالامال

ستا د راتګ د یاد خیالو نه ډکه

د نه راتګ له جنجالو نه ډکه

زه وم ولاړ انتظار

خو ته رانغلې پر لار

هر خوک هر څه په خپله مخه ولاړل

د انتظار ورا مې رخصت کړله چې رانغلې

پاتې یو زه شوم له زخمونو سره

د تا یادونو سره

یوه اوږده لار او یو اوږد انتظار

ستا له خیالونو سره

له سرو تپـونو سره

۲۰۱۷/۰۴/۱۸
هیدرسلیف
ډنمارک





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ